فاعتبروا یااولوالالباب

# مشرهم د خندا

# کشرهم د خندا

دکتور فاورق اعظم

۱۳۸۸

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | مشرهم د خندا کشرهم د خندا |
| لیکوال | دکتور فاروق (اعظم) |
| ټایپ او ډیزاین | (www.hewad.com) |
| د خپرېدو کال | ۱۳۵۲ وری (بیروت) |
| دوهم چاپ | ۱۳۶۹ لیندۍ (پېښور) |
| دریم چاپ | ۱۳۸۸ سلواغه (کابل) |


www.hewad.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# سریزه

مشر هم د خندا کشر هم د خندا د محترم ډاکتر صاحب فاروق اعظم اثر دی چې د نن څخه څه کم ځلور لسیزې مخکې کښل شوی. د کتاب منځپانګه د مرغانو د یو داسې ټولي په ځای ځایګي را څرخي چې د خپل جغرافیائي موقعیت په سبب تل نا آرامه او د خپلو ځالو د دفاع په لیار کې همیشه له نورو سره په شخړو او جګړو اخته وي. د ریښتیني او سالم مشرتابه نشتوالې یو بل بد شامت دی چې د غه مرغان ورسره لاس او ګریوان دي. د کتاب کیسه په ساده او روانه پښتو پر مخ ځي او لوستونکی داسې له ځانه سره اخلي چې د هر کرکټر په لوستلو یې مخې ته د کوم مشر او یا کشر څهره دریږي. او په آخر کې سړی نه پوهیږي چې ژاړي او که خاندي. که له یوې خوا د ځینو مرغانو اکر یا حالت د ژړا وي نو له بلې خوا بیا د ځینو مسخره بڼه د خندا هم وي. خو ډیر وخت

سړی له غمه خاندي او یا له ډېرې خوشحالۍ ژاړي چې دغه کتاب ددې کیفیت امتزاج په ډېره ښه توګه ترسیم کړی.
او روانښاد الفت صاحب څه ښه وئیلي:

اوښکې مې له سترګو رابهېږي په خنداکې تل
ژاړم په خنداکې که ژړاکې په خندا یمه

مونږ نورد محترمو لوستونکو او کتاب تر مینځ نه حایل کېږو دا تاسې او دا مو کتاب او په آخرکې د بخښونکي او مهربان څښتن لوی دربار ته لاس ونه لپه کوو چې د دې بې مددګاره مرغانو په زار حالت نور رحم وکړي ، دوی ته د خپلې ځالې د دفاع استطاعت ورکړي او د تحمیلي مشرانو له شره یې وژغوري – همدا راز محترم داکتر صاحب فاروق اعظم ته د لا زیاتو ادبي ، تحقیقي او سیاسي پنځونو توفیق غواړو.

په درنښت
دهیوادو یبپاڼې مسئوله ډله

www.hewad.com

بسم الله الرحمن الرحيم

په یوه ښکلې سیمه کې د مرغانو یوه ټولی اوسیده، که څه هم په دانه خوار او ډنګر وه خو بیا هم په روزمره ژوند خوښ او بسیا ښکاریدل - مګر ددې مرغانو د اوسېدلو ځای په جغرافیائي لحاظ داسې واقع شوې وو چې د نورو مرغانو د ډلو د تلو را تلو لار پر سپره وه نو ځکه د دوی دغه موقعیت دوی آرام ته نه پرېښودل - وخت ناوخته به پر دوی حملې کېدې. جنګ به پر تحمیل کېدئ او دوی به د خپلو ځالیو ددفاع لپاره هر وخت قربانۍ ورکولې. ددې بېچاره مرغانو مشر تابه هم د هر جنګ په نتیجه کې تغیر خوړ او هر وار به داسې مشر په دوی تحمیل شو چې هغه به د تجاوز سره د ګذارې او مصالحې استعداد درلود او ددښمن سره به یې د ښو روابطو ساتل د ځان لپاره حیاتي بلل. په دې ډول ، مشر به تل دا فکر کاوه چې دی د کشمکش په نتیجه کې واک ته رسېدلی او د بهرنیو قوتونو د احسان مرهون دی. نو ځکه به یې له یوې خوا دا کوښښ کاوه چې و ګاونډي لویو مرغانو ته په امتیاز ورکولو سره خپله سلطه پر خپله سیمه قایم او دایم وساتي او له بلې خوا یې فکر کاوه چې که زه د خپلو مرغانو حال ته سمه توجه وکړم او هغوی سم رهنمایي شي نو نه یوازې ګاونډي لوی مرغان به خفه او ما به ایسته کړي بلکه خپل د سیمې مرغان به هم

بیا زما د سوءاستفادې او مطلق العنانه حکمروایی په مقابل کې ودرېږي – په دې اساس مشر مرغه د خپلو مرغانو ژوند ته توجه نه کول تر څو خپل مرغان پټې سترګې او ناپوهه وساتي او بهرني قوتونه قانع. دغه مشر به ځان مېلمه ګانه نو ځکه یې د خپلې سیمې د مرغانو حال ته سالمه توجه نه وه او صرف و صرف یې خپل شخصي ګټې مدنظر وې او بس، تر څو د مبادا تر ورځې یې ځان مور کړې او خپله چاره یې کړې وي.

که یو څوک به ورته ځیر شوی وای ددې سیمې د مرغانو ژوند ددوی د مشر سره د ډېرې خندا او زړه سوي وو – هر مرغه چې به مشر مرغه ته ځان په یوه طریقه نژدې کړ او خپل اخلاص به یې ورته وښود نو هغه به د وخت د ضرورت په مطابق لومړی ښه استقبال کېدی – حتی ځینې وخت به خپله مشر په مرغانو کې کتل چې کوم تندرست، ښایسته، هوښیار او په مرغانو کې د نفوذ او محبوبیت څښتن مرغه وو هغه به یې په کومه طریقه را خپل کاوه او په مختلفو ذریعو به یې هغه خوشحاله ساتی – څه وخت چې به تیر شو بیا به یې هغه زوړ اشنا په اصطلاح پرېښود بل نوی مرغه به یې را خپل کړ او امتیازات به یې ورکول – بیا به یې هغه هم پرېښود او بل به یې را ټینګ کړ – د وخت په تېرېدو به د دې مشر رابطه د خپلو کشرانو سره عجیبه شکل واخیست – د

مشر مرغه مهمه پالېسي دا وه چې د خپلو کشرانو څخه پخپله ګټه اعظمي استفاده وکړي خو هيڅکله پرېنږدي چې د دوی څخه کوم يو نېک نام او د عزت خاوند سي مثلاً د غه مشر به د خپل ضرورت پر بنياد يو مرغه ته د کار موقع ورکړه - هغه به دا موقع غنيمت وګڼل او شپه او ورځ به يې کار کاوه چې سيمې ته د خدمت مصدر او په ملګرو کې نېک نام شي - خو کله چې به مشر پوه شو چې ده په مرغانو کې څه رسوخ او محبوبيت پيدا کړ نو بيا به همدې مشر د دغه بېچاره مرغه د بې عزته کولو او را غورځولو د سايس جوړول - دده د کار مخ به يې نېوی او هر ځای به يې پخپلو تالي څټانو بې عزته کاوه - دا خوار به پخپله ګناه نه پوهېدی مشر به داسې تظاهر کاوه چې په دې حرکاتو ندی خبر - ټوله ګناه به يې د مرغانو پر ناپوهۍ او نارسايۍ اچول چې دوی د ده په قدر او د کار په اهميت نه پوهېږي.

مشر د جنګ لپاره ځانته مرغان ساتلي وه چې هغوی به د ده او د ده د ګټو دفاع کول - ځينې هوښيار مرغان به يې د خپل ظلم د روا معرفي کولو او استدلال لپاره ساتل خو هيڅ يو ته يې دا وخت نه ورکاوه چې نور ورته په عزت قايل شي - حتی کوم مرغان چې به پخپله په خپل محيط او سيمې کې د يو څه حيثيت خاوندان وه هغوی به يې قصداً ورو ورو بې عزته کول څو هغه امتياز له لاسه

ورکړي ، پخپل محیط کې بې قدره شي او بیا څوک ده ته د امید سترګې وانه ړوي.

د مخه مو وویل چې د مشر مرغه فلسفه دا وه چې ټول عزت ده لره دی او بس ټول د سیمې مرغان اصلاً باید د ده د عزت او ګټو لپاره کار وکړي او نور مرغان باید تل د ده لاس ته محتاج وي - د دغه فلسفې په اساس ده تل د نورو مرغانو څخه بښکې اېستلې مثلاً یو مرغه وو چې ښه غټ ، تندرست او قوي وزرونه یې درلودل چې ښه لوړ او تېز په الوتلای سوای ده لومړی هغه ډېر نازاوه تر څو هغه ته وښیي چې ډېر اخلاص ورسره لري - په دې ډول به د هغه بېچاره مرغه سترګې د اخلاص او احسان سراب ونیولې مشر مرغه به تل ویل چې د نورو مرغانو څخه استفاده باید وسي خو هغوی نباید د ده د نژدیکت او امتیاز څخه تر هغو حدودو د باندې استفاده وکړي کوم چې ده ورته ټاکلی دی - مشر مرغه فکر وکړ چې دغه غټ مرغه چې ډېر تېز او لوړ الوتلای شي امکان لري زما سره د نژدېوالي په وجه په نورو مرغانو کې نفوذ پیدا او نور مرغان پر راټول شي او یا حد اقل د یو مستقل کارکولو توان پیدا کړي. نو لومړی د هغه مرغه د قوي وزرونو د بڼکو د کښلو په فکر کې شو چې د الوتلو او پرواز څخه یې واچوي - یوه ورځ یې د هغه د وزر څخه یوه غټه بڼکه په یوه بهانه وکښل او په ځان پورې یې ونښلول

-کشر مرغه نه یوازې له احترامه څه ونه ویل بلکه و یې ویل چې د
یوې ښکې پر ځای ټول وزر یې تر ده جار. څو ورځې وروسته مشر
یوه بله ښکه په یوه بهانه د کشر مرغه له وزر څخه وایستل او په
ځان پورې یې ونښلول خو بیا هم دې عاجزه مرغه څه ونه ویل دا
کار څو ځلې تکرار شو - بالاخره بېچاره مرغه ته شک پیدا شو
چې مبادا زما مشر زما د زیات اخلاص څخه په سوء استفاده سره
زما د بې وسه کېدو او فلجېدو خیال و لري مشر په پوه سو او د ده
د تطمیع لپاره یې څو د جوارو دانې اضافه ورکړې تر څو دا
تشویش په دې ډول ځینې لرې کړي په کرار کرار او مهارت سره
کشر مرغه د وزرو څخه دومره ښکې وایستل سوې چې که ده اوس
شدید عکس العمل ښوولی هم وای مؤثر نه وو دا ځکه د وزرو
اصلي او د پرواز ښکې مشر ځینې ایستلې وې - په دې ډول د
پرواز څخه پاته او تل د مشر د ترحم محتاج پاته سو. نوې ښکې
چې به یې وزرونو را شنې کړې نو هغه به مشر په اول سر کې لا ورو
کښلې خو دا وار بې له دې چې د کشر مرغه د خفګان څه پروا
وکړي - حتی په قهر به لا دی وو او هغه بېچاره به مجبور وو چې
وزر سم ورته ونیسي - څو د ښکو د کښلو په وخت کې مشر
تکلیف ونهویني - په دې ترتیب مشر مرغه د خپل کشر ملګري د
قوي وزر ښکې ټولې یو په بل پسې و ایستلې او کشر لومړې د

اخلاص بیا د تطمیع او وروسته د ناتوانئ په وجه رغ نه کاوه - په دې ډول دا قوي مرغه د مشر له خوا په ډېر مهارت سره د پرواز ځخه ولوید او د تل لپاره به په مځکه پروت د مشر لاس ته اړ وو - مشر مرغه به د دغه بل کشر مرغه غټې بڼکې په خپل ځان پورې ونښلولې خو هغسې کار یې چېرې ورکاوه لکه څنګه چې د اصلي خاوند په بدن کې وي.

مشر مرغه یوه ورځ وکتل چې .......... مرغه ښه ښایسته او په شاوخوا مرغانو کې د نفوذ او محبوبیت خاوند دی نو د هغه د بې عزته کولو په منظور یې د یو منظم پروګرام له مخې د هغه څخه د بڼکو د ایستلو عملیه شروع کړه - لومړې یې د هغه د ښایسته غاړې څخه بڼکې وایستلې - هره بڼکه به چې مشر مرغه د ښایسته مرغه څخه ایستله کشر مرغه به په لومړي سر کې تصور کاوه چې زه خو په اخلاص د مشر سره روان یم چې دی زما بڼکو ته ضرورت لري تر ده یې جار - دده عزت زما عزت دی - زه باید ده ته په خپل اخلاص کې ثابت قدم اوسم - په دې ترتیب دا ښکلی مرغه بد شکل او د مشر د لاسه بد قواره شو او بیا به خپلو ملګرو ته مخامخ کېدای نسوای او تل به د خپل پخواني محیط او اندیوالانو څخه پټ ګرځیده کوم چې یو وخت دی هلته د یو خاص مقام څښتن وو.

يو بل مرغه وو چې ددې سيمې په مرغانو کې په حيا او ادب مشهور وو مشر مرغه يوه ورځ هغه را وغوښت او ورته ويې وئيل چې زه د داسې با ادبو کسانو ډېر احترام لرم ته بايد زما سره نژدې وه اوسې - ځاى او دانه يې ورته تهيه کړل - حياناکه مرغه ډېر خوښ او خپل مشر ته په دعاګانو سر شو. هر ځاى به يې دده توصيف کاوه - يوه ورځ مشر مرغه وويل چې زما تر پښو لاندې ځاى سم ندى - پدې وجه مې د شپې خوب ډېر ناآرامه وي - د درباريانو څخه يو بې ادبه او بدګذاره مرغه نظر ورکړ چې صاحبه ستاسې د استراحت او د شپې د ځاى د نرموالي لپاره د ټولو مرغانو تر لکۍ لاندې بڼکې بايد راغونډې شي او دلته ستاسو تر پښو لاندې هوارې شي. دا نظريه هم ورکړل شوه چې که د بڼکو را غونډولو کار د حياناک مرغه څخه پيل شي ډېر ښه به وي دا ځکه چې دى به د حيا څخه ږغ ونکړي او په دې ترتيب به دا کار په آرامۍ پيل شي دوهم دا چې نور وويني چې د حياناک مرغه څخه يې بڼکې کښلې هغه څه نه ويل نو ممکن په دې کې يو حکمت وي او دريم دا چې حياناک د خپل عزت د ساتلو لپاره مجبور دى چې ددغه کار د مشروعيت لپاره دلايل پيدا او وړاندې کړي - په دې ډول کار لومړى په ډېر مهارت د حياناک مرغه څخه پيل شو - يو کس يې ور حواله کړ هغه بڼکه د ده څخه وکښل ده د خپل آبه ږغ

ونکړ، راغی مشر ته یې عرض وکړ - هغه ورته وویل چې ښه یې ندي کړي پر ده یې لاس تیر کړ - بله ورځ بیا همدا عمل تکرار شو - ده مشر ته بیا عرض وکړ هغه ورته وویل چې دا کوچنیان دي د چا په قدر نه پوهېږي ته مه خوابدې کېږه یو څه د جوارو دانې یې ورکړې - بل وار چې د اعمل تکرار شو او حیاناک مرغه مشر ته عرض وکړ هغه څه مثبت یا منفي جواب ورنکړ - بل وار چې بیا د همداسې واقعې په شکایت مشر ته راغې نو د درباریانو څخه دوو نورو مرغانو په داسې حال کې چې پر خندل یې هم مشر ته وویل چې هره ورځ دده شکایت دی ګذاره پکار ده. په دې ترتیب یې دا حیاناک مرغه بې حیا او بې عزته کړ.

یوه ورځ یوه د درباریانو څخه مشر مرغه ته وویل چې زموږ په مرغانو کې .......... مرغه ډېر پوه او هوښیار دی ممکن زموږ کار په وشي - مشر هغه را وغوښت. ډېر صفت یې د هغه وکړ او ورته یې وویل چې ته به زما سره نژدې همکاري کوې - دلته به اوسېږې - که ما جوار خوړل جوار به راسره خورې که مې وچه خوړل که لنده ته به مې ملګری یې او که زه وږی او سېدم ته به هم لوږې قبلوې - زیرک مرغه چې د مشر دا د لطف څخه ډکې خبرې واورېدې په ډېر ادب یې جواب ورکړ چې صاحبه تاسې چې زموږ مشر یاست دومره اخلاص راسره لرئ او اعتماد را باندې کوئ زه چې ستاسو

کشر یم ولې به خدمت نه کوم - په دې ترتیب زیرک دربار ته لار
پیدا کړه خو په یاد یې نه وه چې زیرک په دوو لومو کې نښلي - په
هر صورت زیرک په هغه کار پیل وکړ کوم چې ده ته سپارل سوی
وو په لنډه موده کې یې خپل کار ته شانداره رونق ورکړ - د سیمې
په مرغانو کې امید او توقع پیدا شوه چې ګوندې د دوی د غربت
حال او س بدل او ښه شي خو په درباریانو کې بیا دا تشویش
راپیدا شو چې که نظم او اداره منځ ته راسي بیا د دوی
سوءاستفاده او بې کفایتي به هر چا ته ښکاره سي - زیرک ډېر
خوښ وو چې د نسبي کار موقع ورته حاصله ده او فکر یې کاوه
چې که په دې کار کې لیاقت او کفایت و ښیي نو مشر به نوره موقع
هم ورکړي - ده به هر ځای په ډېر اخلاص د خپل مشر صفت کاوه
او د هغه په صحیح معرفي کولو کې به یې ډېر زیار ویست او د
ډېرو مرغانو شکوک یې دده په نسبت ور رفع کړل مګر مشر مرغه
د خپلې فلسفې په حکم غوښتل چې د زیرک مرغه د هوښیارۍ
څخه استفاده وکړي خو هیڅکله ورته موقع ورنکړي چې دی خپله
یو څوک او په محیط کې د عزت څښتن او د نورو مرغانو د امید
ځای سي نو ځکه یې د سیمې د ادارې په کارو کې هیڅ صلاحیت
نه ورکاوه. د خپلې قبلې وعدې په خلاف یې دده د کار او پېشرفت

مخ نیوئ دا ځکه مشر د استعداد او ابتکار دښمن وو خو ظاهراً یې پر ده لاس تېراوه.

که ورته اړ نه وای ممکن نور یې لیدلی هم نه وای. زیرک د مشر له خوا صرف دا صلاحیت درلود چې هر ځای باید د مشر صفت وکړي او د ده بد خصوصیات نورو ته ښه توجیه کړي. هر ځای باید د مشر په ګټه استدلال وکړي او د هغه او د ده د درباریانو پر معایبو پرده واچوی- زیرک وقتاً فوقتاً د خپل اخلاص او ورځنیو ګذارشاتو راپور مشر ته وړاندې کاوه- ده به خپله ستړیا او شلېدلې غاړې مشر ته ښوولې مشر به په لومړیو ورځو کې په ډېر حرارت سره د ده د فعالیت مننه او تشکر کاوه. څو وخت وروسته یې په اشاره سره د هغه استقبال کاوه او بالاخره خبره دومره سړه شوه چې ورته ویل کېده به چې دا دې وظیفه ده خود به یې کوې- زیرک د خپل مشر په دفاع کښې ډېر جنګونه وکړل او په دې لار کې یې د خپل بدن ډېرې برخې له لاسه ورکړې- سربېره پر دې یې خپل دوستان او د سیمې ټول مرغان هم د مشر پر سر د ځان څخه خفه کړل خو د دې ټولو قربانیو او اخلاص سره سره مشر دی د اداري په کار او راز کې د ځان سره شریک نکړ- دا ځکه چې دغه مشر ځانته فعال مایشاء او لاشریک وایه- مشر په دې هم اکتفا ونکړه- فېصله یې وکړه چې زه به د زیرک د سر برخې کاږم او پر

خپل سر به يې ږدم ګونډې د زيرک پوهه هم زما شي او هغه هم د نورو د خندا -نو يې د زيرک د سر ښکې په يوه او بله بهانه را وشکولې او پر خپل سر يې سربښ کړې -زيرک لومړی د ډېر اخلاصه څه نه ورته ويل او بيا وروسته څرنګه چې د ټولو مرغانو سره يې د مشر پر سر جنګونه کړي وه او په هېڅ کې يې ښه زړه نه وو پرې ايښی او هم يې ټولې دروازې د ځان پر مخ په خپله تړلې وې ناچاره يې کمافی السابق ژوند ته په بې حرمتۍ سره د مشر د ترحم تر سيوري لاندې ادامه ورکول.

په دې سيمه کې چې څو مره مرغان وه د هغو يو عجيب حالت او عجيبه منظره وه -د ټولو ښکې خو مشر ځينې ايستلې وې او سرې غوښې ښکاره کېدل -که به سوړ شمال را والوت د دوی به يخ کېدی او مجبور وه د مشر مرغه تر ښکو لاندې ځان تود وساتي که به تېز لمر وو هم به دوی سوځېدل او مجبور وه د مشر مرغه تر سيوري لاندې وه اوسي که به هوا معتدله هم وه دوی به يو د بل د شرمه په غارو کې او يا تر وښو لاندې ځانونه پټول. ګډ به نسوای ګرځېدای خپله دانه به يې آزادانه پخپله نسوای ټولولای او تل به يې د مشر لطف ته سترګې وې.

مشر مرغه چې د ټولو مرغانو څخه ښکې ايستلې او پر ځان يې نښلولې وې يو عجيب شی او نکته نيرنګي يې د ځان څخه جوړه کړېوه - د بل ښکې کله د چا پر ځان پسې نښلي او يا ښې ښکاري - پر وزرو، سر، غوږو، وروځو، لکۍ ........... او پر ټول بدن يې د بل ښکې انبار او کوټه کړې وې - يو عجيبه ډوبسه او کره المنظره حيوان ځينې جوړ سوی وو - په سترګو يې نه ليدل دا ځکه د بل ښکې يې په سترګو پردې غوندې پرتې وې غوږونو يې سم نه اوريدل دا ځکه د بل ښکو يې د اوريدو لار بنده کړېوه - د ډېر درندوالي څخه خو الوتلای هيڅ نسوای بلکه پر لارې د سم ګرځېدو هم نه وو - ولاړه يې هم د خندا وه او ځغاسته خو يې بيا عجيبه منظره وه.

مشر هيڅکله د چا سره مشوره نکول - څرنګه چې ده د سيمې اداره صرف او صرف د خپل شخصي ګټې او خپل نس د مړېدو لپاره چلول نو ځکه ورته نظم، اداره او مشوره معنی نه درلودل بلکه د ځان لپاره يې مضر او د خپلو شخصي ګټو لپاره يې جدي خطرګانه عجيبه خبره دا وه چې که له يوې خوا ده خپلو مرغانو ته ځان فرعون کړې وو خو بهرنيو مرغانو ته، چې د مرستې هيله يې ورڅخه درلوده، بيا د حلقه بګوش غلام په حيث ولاړ وو.

نه یم خبر چې ښنګه یوه ورځ د سیمې ټول مرغان د مشر په شمول په یو ځای کې راټول سوي وه – یوه عجیبه منظره وه – یو مرغه دومره په خپلو او پردیو بڼکو پټ وو چې یو تیار شوډنګ یې د ځانه جوړه کړې وو او د هر چا د خندا وو – بلې خوا ته ډېر مرغان لوڅ لپړ، بې سیرته او خوار ولاړ وه چې په لیدو ئې چا ته هم خندا ورتله او هم ژړا – په دې ډول د دې سیمې ټول مرغان د خندا وه مشر هم د خندا کشر هم د خندا – خو دومره فرق یې وو چې مشر پخپل دغه مسخره ژوند خوښ او فخر یې په کاوه خو کشران بیا په زړه کې سخت ناراض او خوابدي وه مګر د مجبوریت څخه یې چا ته حال نسوای ویلای – دې حالت پټ انقلاب ته لار هواروله او هر څوک د یو ږغ منتظر وو. که په دغه وخت کې چا پر مشر حمله کړې وای بې تکلیفه به یې نیولې وای – دا ځکه ده په سترګو نه لیدل چې دښمن ووینې او نه یې په غوږو سم اوریدل چې د دښمن د راتلو آواز واوري – واقعي ملګري یې هم نه درلودل څه چې وه هغوی خوار او لوڅ لپړ وه – د مقابلې توان یې هم نه درلود زړونه یې خوابدي وه نه یواځې یې د ده دفاع نکول بلکه د ده بې عزتي او لېرې کېدو ته یې په زړونو کې ګوړې هم ماتولې.

بیروت – لبنان

۲ اپریل ۱۹۷۳